# FEDERAL PUBLIC SERVICE COMMISSION

**COMPETITIVE EXAMINATION-2024 FOR RECRUITMENT TO POSTS IN BS-17 UNDER THE FEDERAL GOVERNMENT**

**Roll Number**

## PASHTO

| TIME ALLOWED: THREE HOURS | (PART-I MCQs) MAXIMUM MARKS: 20 |
|---|---|
| PART-I (MCQs) : MAXIMUM 30 MINUTES | (PART-II) MAXIMUM MARKS: 80 |

**NOTE: (i)** First attempt **PART-I (MCQs)** on separate **OMR Answer Sheet** which shall be taken back after **30 minutes.**
**(ii) Overwriting/cutting of the options/answers will not be given credit.**
**(iii)** There is **no negative** marking. All MCQs must be attempted.

**PART-I (MCQs)(COMPULSORY)**

**Q.1. (i)** Select the best option/answer and fill in the appropriate Box ■ on the **OMR Answer Sheet. (20x1=20)**
**(ii)** Answers given anywhere, other than OMR Answer Sheet, shall not be considered.

1. **لرغونے پښتانۀ نومې کتاب چا ______ لیکلے دے ؟**
(A) محمد هوتک (B) شیخ ملي (C) محمد هاشم (D) شیخ کټه متے زي
2. **د پښتنو ملي اتل ګجو خان بابا مزار په کوم ځاے کښې شتون لري ؟**
(A) نوښار (B) صوابی (C) بونیر (D) اله ډهنډ
3. **صراط التوحید په کوم کال لیکلے شوے دے ؟**
(A) ۹۷۸ هجري (B) ۹۸۷ هجري (C) ۹۱۲ هجري (D) ۹۱۳ هجري
4. **قصه جمجمه چا لیکلې ده ؟**
(A) منشي احمد جان (B) مولوي احمد (C) شیخ احمد (D) ګل احمد
5. **نقش نګین په پښتو کښې چا ترجمه کړے دے ؟**
(A)میا یوسف کاکاخیل (B)میا عنوان الدین کاکاخیل (C) شیخ یوسف کاکاخېل (D)میا حسیب ګل کاکا خېل
6. **خوشحال خان خټک د څو کالو په عمر کښې شاعري پېل کړې وه ؟**
(A) اتلسوکالو (B) دویشت کالو (C) شلو کالو (D) دېرشوکالو
7. **د ادم خان د پلار نوم څه وو؟**
(A) اطلس خان (B) حسن خان (C) احسن خان (D) میر داد خان
8. **د سرو غاښ د چا د افسانو مجموعه ده ؟**
(A) قلندر مومند (B) اجمل خټک (C) مهدي شاه (D) مفلس دراني
9. **بنړے د چا ناول دے ؟**
(A) قلندر مومند (B) غازي سیال (C) صاحبزاده محمد ادریس (D) نور محمد ترکی
10. **نوې چپې نومې ناول چا لیکلې دے ؟**
(A) امیرحمزه (B) اجمل خټک (C) راحت زاخیلي (D) ابراهیم شبنم
11. **د اجمل خټک د کالم څه نوم وو؟**
(A) ګډې وډې (B) دا زۀ پاګل وم (C) کچکول (D) د غېرت چغه
12. **د باچا خان د پلار نوم څۀ ؤ؟**
(A) بهروز خان (B) بهرام خان (C) شهباز خان (D) خوشحال خان
13. **لشې کتاب د طنزیه او مزاحیه ډرامو______ مجموعه ده ؟**
(A) خاکو (B) افسانو (C) ټوکو (D) تکلونو
14. **بایزید انصاري د تصوف د پاره څو مقامات ټاکلي وو؟**
(A) څلور (B) شپږ (C) اته (D) دولس
15. **د ارمغان خوشحال په نوم د خوشحال بابا د دیوان تدوین د ______ ادبي زیار دے ۔**
(A) کامل مومند (B) یار محمد مغموم (C) همېش خلیل (D) سید رسول رسا
16. **حمزه بابا په کال ______ کښې پیدا شوے ؤ ۔**
(A) ۱۹۰۶ (B) ۱۹۰۷ (C) ۱۹۰۸ (D) ۱۹۰۹
17. **د غني خان شعري مجموعه د پنجرې چغار باندې مقدمه چا لیکلې ده ؟**
(A) اجمل خټک (B) حمزه شینواري (C) سلیم راز (D) ماسټر

عبدالکریم

18. **عبدالحمید بابا د شاه و ګدا قیصه په کال ______ کښې لیکلې ده ۔**
(A) ۱۱۷۵ (B) ۱۱۳۵ (C) ۱۱۳۷ (D) ۱۱۷۰
19. **در او مرجان د چا شعري مجموعه ده ؟**
(A) علي خان (B) حمید بابا (C) کاظم خان شیدا (D) اشرف خان هجري
20. **د میجر یونس خلیل د شعري مجموعې نوم څه دے ؟**
(A) د بېدیا ګلونه (B) اوښکې (C) پلوشې (D) څاڅکي





# PART-II

**NOTE: (i) Part-II** is to be attempted on the separate **Answer Book.**
**(ii)** Attempt **ONLY FOUR** questions from **PART-II.** Answer must be written in **respective language** except where specified in the Question paper. **ALL** questions carry **EQUAL** marks.
**(iii)** All the parts (if any) of each Question must be attempted at one place instead of at different places.
**(iv)** Write Q. No. in the Answer Book in accordance with Q. No. in the Q.Paper.
**(v)** No Page/Space be left blank between the answers. All the blank pages of Answer Book must be crossed.

**(vi)** Extra attempt of any question or any part of question will not be considered.

سوال نمبر 2: (a) د لاندیني ورکړي شوي انګرېزي عبارت په معیاري پښتو کښې ترجمه اوکړئ ۔ (14)

Linguistically and etymologically poetry Nazm is called an arranged speech. Both the line if the verse should be equally metered and equipped with proper fine words, rhythm, rhyms, weighed, syllables and proper length. Moreover poetry consists of many kinds , for example: Qasida, Ghazal, Rubaie, Qitaa, Mukhammas and Musaddas. Poetry contains many aspects and characteristics. Proper poetry is that which is produced by a wise man. A stupid man's poetry is of no use. The difference between these two kinds of versification is that one of it is a braying of donkey and other is a sweet music.

(b) ورکړې شوی انګریزی متلونو کښې درې متلونه پښتو ته راواړوئ. (06) (2 each)

**(i)** Patience heath a reward
**(ii)** Achieve the object without sustaining any loss
**(iii)** To a jaundiced eye everything is yellow
**(iv)** Skill is stronger the strength
**(v)** Manners can be learned from the manner less.

سوال نمبر 3: (a) د لاندیني پښتو عبارت په معیاري انګرېزی‌کښې ترجمه اوکړئ ۔ (14)

د غني خان تر تصوره د دغې عظمت او پاکی تاثر مدام راغلے دے او انګازې ئې په هر پښتون فکر کښې خیژي غني خان فلسفي دے حیرت وړے دے د ژوند تضاداتو د اګهي له عذابه دردېدلے د یو داسې خدائے په لټون دے چې د هغه د بې ارامه روح د پاره د مور د غېږ په شان قرار باعث شي او بیا د غني لټون چې د یو سرمدي صوفي په شان د کوم خدائے بندګي کوي د هغه ډېر مهربان خدائے دے د عشق کېفیتونه د عاشق معشوق د مینې جنګ، ګیلې مانې کله ځاږ کله بې سواده کله ورک کله موندلے د غني د ذات قیصه ده خو کله چې دغه مینه د ادب د پنجرې اوځي او غني ځان ته داسې احساس وشي نو هم ځان نه ګرموي ۔۔

(b) د پښتو د لاندینی متلونو نه د درېو متلونو په انګرېزی کښې ترجمه اوکړئ ۔ (06) (2 each)

(i) اورېدل یوڅه دي او لیدل بل څه
(ii) برمته د بدی بهانه ده
(iii) اوبنان به بېه نه وهل کیږي
(iv) پردے خر شل منه اوړي
(v) په ایرو کښې پل نۀ جوړیږي

سوال نمبر 4: د خوشحال خان خټک په رزمیه شاعری باندې بحث وکړئ ۔ (20)

سوال نمبر 5: د غني خان په طنزیه او مزاحیه شاعری باندې تفصلي بحث وکړئ ۔ (20)

سوال نمبر 6: د بایزید انصاري او اخون درویزه بابا د نثر موازنه وکړئ ۔ (20)

سوال نمبر 7: پښتونولي څه ته وائي ؟ د پښتو ادب په رڼا کښې بحث وکړئ ۔ (20)

سوال نمبر 8: په لاندینو ورکړي شوي عنواناتو باندې جامع نوټ ولیکئ. (5 each) (20)

(الف) رپورتاژ ( ب ) سفرنامه ( ت ) تکل ( ج ) ناول

****************